سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۹/۱۴

# ننني فرعون ...

دنیــا ماتــه ده حیــرانــه زه دنیــا ته پتــه نشــته نــه دنیــا تــه او نــه ماتــه
چې به وروسته پاتې زه یم له کاروانه که روان به دا کاروان وی بیرته شاته؟
زه خو یو عذر لرم چې یم نا لـو ستئ خو څه پیښ دي با سـواده اشنا تا ته؟
زه په یو مثقال بدی هم پښـیمان یم تـا په بــدو کـړه دنیـا تـوله میـراتـه
لاهم نه یی پښـیمان او ورانــه وی یي ځی دجال غوندی په مخ نه ګوری شاته
په غرور دی دنیا تـولـه اورکی وسـوه څه ځواب لـری راتلونکی ته، سبا ته؟
خـو وروسـتی فتوا د نوی نسـل داده نور لاس نه لپـه کوی پورته هوا ته
بلـد شـوي د ژوندون په ککلیچـونو د پوښــتنی ضرورت نشته نور چاته
نننۍ فرعـون زوی د پرون شـمیري اړتیـا وینــی کلـیواله! بل موسـی ته

سـپتمبر/۳/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کانادا

**** **** ****